


# په دې جراحۍ کې موږ سره د اړیکې لپاره درې لارې شتون لري.

زموږ له آسانه آنلاین فورمې څخه استفاده وکړئ، موږ سره اړیکه ونیسئ یا له ډاکټر څخه لیدنه وکړئ.

Your health matters

Help us help you

## موږ سره د اړیکې ټینګولو ترټولو غوره لار


دا له هېڅا پټه نه ده چې زموږ د جراحی څانګه تر پخوا ډېره مشغوله ده. له همدې امله، موږ سره د اړیکو ګڼ شمېر لارې شتون لري.

اوس تاسو کولای شئ زمو په وېب پاڼه کې یوه خوندي آنلاین فورمه وکاروئ. یوازې څو پوښتنې ځواب کړئ، په لېږد یا send کلېک وکړئ، او موږ به تاسو ته داړ درکړو ترڅو تاسو سمه مرسته او ملاتړ ترلاسه کړئ. او د پخوا په شان کولای شئ موږ سره د تلفون له لارې یا په حضوري ډول اړیکه ونیسئ.

## تاسو ته بېرته زموږ ځواب

که څه هم تاسو موږ سره د خپلې خوښې طریقې له لارې اړیکه نیسئ، خو زموږ ټیم به تاسو ته ستاسو د ځانګړیو شرائطو له مخې ځواب درکړي.

راتلونکي پړاوونه به ستاسو اړتیاو ته په کتو سره وي: مثلا دا کېدی شي یو حضوري ملاقات، تلفوني یا ویډیویي مرکه یا یو ساده کتبي پیغام وي چې له تاسو څخه غوښتنه کوي ترڅو د وینې د معاینې لپاره مراجعه وکړئ.




## ستاسو له سیمه ئیز روغتیایي ټیم څخه د مرستې غوښتنه

ستاسو سیمه ئیز درمل پلورونکی/جوړوونکی او د هغوی ټیم کولای شي د کوچنیو ناروغیو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي. د ځانګړیو او وړ روغتیایي متخصصینو په حیث، دوی کولای شي تاسو ته روغتیایي سپارښتنې، مشورې او له نسخې پرته درمل چمتو کړي ترڅو د پراخو معمولي یا کوچنیو روغتیایي اندېښنو په مدیریت کې مرسته وکړي. همدارنګه ګڼ شمېر درملتونونه یو لړ نوي د NHS کلینیکي خدمات لکه د وینې د فشار د آزموینې خدمات وړاندې کوي.

## د عاجلې روغتیایي مرستې لپاره

که چېرې تاسو عاجلې روغتیایي ستونزې لرئ او نه پوهېږئ څه وکړئ، د عامې روغتیا ملي اداري **NHS 111** شمېره کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي. نو تلفون وکړئ یا په آنلاین ډول اړیکه ونیسئ: **nhs.uk.111**

ژوند ته د ګواښ په صورت کې، په **999** شمېره زنګ ووهئ.



NHS

# موږ سره مرسته له تاسو سره مرسته کویلنا

کله چې په آنلاین، تلفون یا په حضوري ډول د پالنې یا مراقبت غوښتنه کوئ، دا موږ سره دا موږ سره د موضوع په تشریح کې مرسته کوي. پدې سره تاسو ډاډ ترلاسه کوئ چې د اړتیا وړ پاملرنه له مناسب شخص څخه په مناسب وخت کې ترلاسه کړئ – د مثال په توګه، ډاکټر یا نرس چې معمولا ستاسو درملنه کوي. همدارنګه دا زموږ د روغتیایي ټیم سره مرسته کوي چې هغو کسانو ته لومړیتوب ورکړي چې جدي پاملرنې ته اړتیا لري.

که تاسو نه غواړئ تشریح کړئ چې څه غلط دي – د مثال په توګه، کله چې زموږ د هرکلي ټیم سره خبري کوئ – هغوی به ټل ستاسو د شخصي حریم درناوی وکړي. که څه هم، دا د دوی د کار یا مسؤلیت یوه برخه ده، خو موږ پدې برخه کې ستاسو له ملاتړ څخه مننه کوو.

**د نورو معلوماتو لپاره د جراحۍ ویبپاڼه وګورئ یا د راتلونکې لپاره موږ سره اړیکه ونیسئ.**

دا د لارښود کتاب په بدیلو فارمټونو او ژبو کې هم شتون لري. د نورو معلوماتو لپاره د خپل عمومي ډاکټر (GP) سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولی شئ د ړندو لپاره نسخې (Braille) د **england.pccomms@nhs.net** له لارې ترلاسه کړئ.

مهرباني وکړئ ډاکټر ته د مراجعې پرمهال د کورونا وایروس د مخنیوي تدابیر په پام کې ونیسئ.

Your health matters

Help us help you